د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# واجِب قُرباني
# نَهٔ کول

د05 جون، 2025ء



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه **(2):** دُعا یادول: 5 منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، **ټول وخت: 15 منټه-**

نن به د زده کولو او ښودلو پۀ **حلقو** کښې د **واجِب قُربانیٖ نۀ کولو** پۀ موضوع باندې فائده مند معلومات ورکولے شي او **د قُربانیٖ د څاروي د ذَبَح کولو نه پس لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي- د دُعا یادولو نه پس به د **نیک اعمال** رسالې نه [د خپلو اعمالو] اجتماعي جائزه اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** تاسو خپل مجلسونه پۀ ما باندې پۀ درود لوستلو سره ښائسته کړئ بے شکه ستاسو پۀ ما باندې درود لوستل به د قیامت پۀ ورځ ستاسو د پاره نُور وي-[1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## واجِب قُرباني نۀ کول

## قُرباني پۀ چا باندې واجِب ده؟

د قربانیٖ واجِب کیدو درې صورتونه دي: **(1)**: پۀ هر ازاد، مقیم (یعني څوک چې مسافر نۀ وي) که هغۀ صاحبِ نصاب وي (یعني د هغۀ سره اووه نیمې تولې سره زر یا 52 نیمې تولې سپین زر یا د دومره قیمت سامان وغیره وي) نو پۀ هغۀ باندې قُرباني واجِب ده-[2] **(2)** : که د قربانیٖ منښته یـې وکړه (مثلاً اوئې وئیل: د الله پاک د پاره پۀ ما باندې

---

1…مسند الفردوس، جلد:2، صفحه:291، حدیث:3330۔

2…الهدایة شرح بدایة المبتدی، کتاب الاضحیه، جلد:2، جُز:4، صفحه:403۔

قُرباني ده)، که هغهٔ صاحبِ نصاب وي او که نهٔ وي نو پهٔ هغهٔ باندې به هم قُرباني واجِب شي- **(3)**: فقير (يعنې څوک چې صاحبِ نصاب نهٔ وي، هغهٔ) که د قربانۍ د پاره څاروے واخلي نو پهٔ هغهٔ باندې خاص هم د هٔغه څاروي قُرباني واجِب ده- [1]

## د واجِب قربانۍ نهٔ کولو مختلف احکام

**(1)**: واجِب قُرباني نهٔ کول حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- [2] **(2)**: د قربانۍ پهٔ وخت کښې هم قُرباني کول لازمي دي، بَل يو څيز هم د دې ځائے نشي نيولے- [3] **(3)**: د قربانۍ پهٔ ځائے چيلۍ يا د دې قيمت صدقه کول کافي نهٔ دي- [4] که داسې وکړي نو د عذاب حق دار به جوړ شي- [5] **(4)**: د قربانۍ نه اِنکار کوونکے ګمراه دے [6] او څوک چې دې ته ظلم وائي (لکه څنګه چې بعضې ازاد خياله يا لِبرَل ذهن لرونکي وائي) کافر دے- [7] **(5)**: پهٔ چا باندې چې قُرباني واجِب ده هغهٔ به هم پهٔ خپل نوم باندې قُرباني کوي، که د خپلې ښځې، زوي يا د بل چا د طرف نه يې کوي نو د دهٔ واجِب به نهٔ ادا کيږي- [8] **(6)**: د يو کور يا د يوې کورنۍ پهٔ مختلفو کسانو باندې (مثلاً پلار، زوي، ورور، کشر ترهٔ، مشر ترهٔ وغيره باندې د بيلې بيلې) قربانۍ واجِب کيدو باوجود که د دې ټولو د طرف نه صرف يوه قُرباني (مثلاً چيلے يا ګډ) يا (د غټ څاروي) صرف يوه حصه قُرباني کړے شي نو د يو به هم قُرباني نهٔ کيږي- [9] **(7)**: که قُرباني يې د الله پاک د پاره وکړه او د دې ثواب يې ټولو مسلمانانو (مثلاً خپلو وفات شوو مور پلار، خپلو خپلوانو، بلکې ټول مسلمان

---

1...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:331، حصه:15 ماخوذً-
2...فتاوىٰ رضويه، جلد:10، صفحه: 290 ماخُوذًا-
3...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:335، حصه:15 بتغير قليل-
4...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:335، حصه:15-
5...فتاوىٰ رضويه، جلد:10، صفحه:290-
6... فتاوىٰ فقه ملت، جلد:2، صفحه: 242 ملخصاً-
7... فتاوىٰ رضويه، جلد:14، صفحه:356-
8...فتاوىٰ امجديه، جلد:3، صفحه:315-
9...فتاوىٰ اہلسنت، ريفرنس نمبر:1861 بتغير قليل-

اُمت) ته اوبخښو نو قُرباني به صحيح وي او ثواب به ټولو ته رَسي- (1) **(8)**: که قُرباني واجِب وه او وه يـې نهٔ کړه او د قربانۍ ورځې تيرې شوې نو بيا د څاروي يا د هغې قيمت صدقه کول واجِب دي- (2) (**نوټ**: د دې مسئلې مختلف صورتونه دي، څکه د ضرورت مطابق د دارُ الافتاء اهلسنت يا د يو عاشقِ رسول ماهر مفتي صاحب نه راهنمائي حاصله کړئ)-

## آيت مبارک

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَ انۡحَرۡ ؕ ﴿۲﴾

(پاره:30، سورۂالكوثر :2)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** تهٔ د خپل رَبّ د پاره نـمونځ کوه او قُرباني کوه-

پهٔ تفسير نور العرفان کښې دي: د دې آيت نه دوه مسئلې معلومې شوې: **(1)**: قُرباني (يعنې د شرعي طريقې مطابق د مخصوص څاروي وينه توئيول) د اِسلامي شِعَار (يعنې د اِسلام پيژندګلو) ده، د دې پهٔ بدله کښې قيمت وغيره نشي ورکولے کيدے- **(2)**: قُرباني صرف د مکے مکرمې والؤ يا د حاجيانو د پاره خاص نهٔ ده (بلکې په چا کښې چې شرطونه پوره وي، پهٔ هغهٔ باندې واجِب ده)- (3)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

د چا چې وَس رَسي او بيا هم قُرباني ونکـړي، هغهٔ دې زمونږ د عيد ګاه خوا ته نهٔ راځي- (4) **پهٔ يو حديثِ پاک کښې فرمائي:** دوزخ ته به د ټولو نه وړومبے درې کسان ځي، پهٔ هغوئي کښې يو هُغه مالداره وي چې پهٔ خپل مال کښې د الله پاک حق (مثلاً زکوٰة، سرسايه او قُرباني وغيره) نهٔ ادا کوي- (5)

---

1...فتاوىٰ رضويه، جلد:20، صفحه:457 بتغير قليل۔
0... الهداية شرح بداية المبتدى، كتاب الاضحيه، جلد:2، جُز:4، صفحه:406۔
3...تفسير نور العرفان، پاره:30، سورۂالكوثر، تحت الآية:2، صفحه:906۔
4...ابن ماجه، كتاب الاضاحى، باب الاضاحى واجبة ام لا؟، صفحه:509، حديث:3123۔
5...صحيح ابن خزيمه، كتاب الزكوٰة، باب ذكر ادخال مانع الزكوة النار...الخ، صفحه:515، حديث2249۔

## د واجِب قرباني نهٔ کولو پهٔ ګناه کښې د اخته کېدو بعضې اسباب

(1): د علمِ دِين کمے (چې بعضې خلق د دِيني معلوماتو د کمي پهٔ وجه پهٔ غلط انداز کښې قُرباني کوي يا پهٔ هغوئي باندې قُرباني واجِب وي او هغوئي ته پته نهٔ وي چې پهٔ مونږ باندې قُرباني واجِب ده، داسې د واجِب پرېښودو پهٔ ګناه کښې اخته شي) (2): د مال محبت (3): بے لارې کېدل (يعني پهٔ خرابو نظريو پسې تلل) (4): خراب صحبت (مثلاً د ازاد خياله او لبرل قِسم خلقو پهٔ صحبت کښې کيناستل، د هغوئي خبرې اورېدل، پهٔ ټي وي چينل يا سوشل ميډيا وغيره باندې د هغوئي پروګرامونه کتل وغيره)-

## د واجِب قرباني د نهٔ کولو د ګناه نه د بچ کېدو د پاره

❁ عِلمِ دِين حاصل کړئ! (کم از کم فرض عِلمِ دِين خو خامخا حاصل کړئ ولې چې فرض عِلمِ دِين نهٔ زده کول ګناه ده) ❁ د مال محبت د زړهٔ نه اوباسئ! ❁ د نيکانو خلقو خاص طور د حضرت ابراهيم او حضرت اسماعيل عَلَيۡهِمَاالسَّلَام د بے مثله قربانو واقعات لولئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! ايمان به مو مضبوط شي، د زړهٔ نه به مو د دُنيا محبت ووځي او د ايمان جذبه به پکښې زياته شي ❁ د قرباني کولو فضائل لولئ! (مثلاً پهٔ حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د زړهٔ د خوشحالي نه د ثواب حاصلولو د پاره قُرباني وکړي، هغه قُرباني به د دوزخ د وور نه حِجاب (يعني خنډ) جوړ شي [1]) ❁ د يو بل نه د اورېدلے شوو خبرو پهٔ ځائے د صحيح او مضبوطو ذريعو نه عِلمِ دِين زده کړئ! نن سبا ډېر جاهلان يا فتنه باز پهٔ سوشل ميډيا وغيره باندې د ځان مشهورولو د پاره جهالت خوروي او خلق ګمراه کوي، د دوئي د خبرو نه ځان ساتل مناسب دي، اِمامِ اِبنِ سِيرِين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: دا عِلم ستاسو دِين دے، غور وکړئ چې تاسو خپل دِين د چا نه زده کوئ- [2] ❁ د خراب

1... معجم کبير، جلد:2، صفحه:213، حديث:2670-

2... مسلم، مقدمه، باب بيان ان الاسناد فی الدينا...الخ، صفحه:14-

صحبت نه ځان بچ ساتئ، د ښو خلقو سره کښینئ، د ښو خلقو خبرې اورئ او د ښو خلقو د دوستانو جوړولو پخه اراده وکړئ! یاد ساتئ چې خراب صحبت ایمان ته ډیر نقصان رسوونکے دے۔

**نوټ:** د قربانۍ په باره کښې د تفصیلي معلوماتو د پاره ✿ د شیخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه رساله **ابلق گھوڑے سوار** ✿ او د مکتبة المدینه کتاب **بهار شریعت** جلد: 3 صفحه: 327 نه 357 پورې ولولئ!

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې یادولو والا دُعا

**که قُرباني د خپل طرف نه وي نو د ذبح کولو نه پس دا دُعا ولولئ!**

**اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّیْ کَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ خَلِیْلِكَ اِبْرَاهِیْمَ عَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ وَحَبِیْبِكَ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

**ترجمه:** اے الله! ته زما نه (دا قُرباني) قبوله کړې لکه څنګه چې تا د خپل خلیل ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام او د خپل حبیب مُحَمَّد صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه قبوله کړه۔ [1]

که د بَل چا د طرف نه قُرباني کول وي نو د مِنِّي په ځائے مِن ووایئ او د هغهٔ نوم واخلئ۔

## د اِجتماعي جائزې طریقه (72 نیک اعمال)

### د روزانه 56 نیک اعمال:

(1): آیا ښه ښه نیتونه مو کړي؟ (2): آیا پینځه واره نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آیا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آیا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نمونځ نه پس مو آیة الکرسي، تسبیحِ فاطمه،

[1]... بهار شریعت، جلد:3، صفحه:352، حصه:15، ابلق گھوڑے سوار، صفحه:14۔

سُورَۃُالاِخلاص لوستلے؟ (6): آيا د كنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 كرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا ستركې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ كيدو سره مو نظر ښكته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مكـتبة الـمدينه اِصلاحي كتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو وركړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو كړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو كړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې كړي؟ (18): آيا پۀ مكـتبة الـمدينه بالغان كښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو كښې كورته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني كارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول كړي؟ (22): آيا د نورو كورونو ته مو د كتلو نه ځان بچ كړے؟ (23): آيا پۀ كور كښې مو درس وركړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو وركړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل كړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه كولو پۀ شكل كښې مو فوراً توبه كړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک كړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام كړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل كړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخكښې ادا كړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةِ الليل مو ادا كړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو كړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا كړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني كارونو كښې مو د يو ديني كار ترغيب وركړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال كړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلې

نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آیا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئیلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئیلې؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

✿ پهٔ لیکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته۔

## هفته وار 9 نیک اعمال

**(57)**: آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ **(58)**: آیا هفته واره مَدَني مُذاکَره مو کتلې یا اوریدلې؟ **(59)**: آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ **(60)**: آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ **(61)**: آیا د مریض یا غم زپلې تپوس یا غم خورې او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ **(62)**: آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟

**(63)**: آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ **(64)**: آيا علاقائي دوره مو کړې؟ **(65)**: آيا مخکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟